مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی
د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز

# تحلیل هفته

**شماره: ٢٦٦** (از ۱۷ الی ۲۴ سنبله ۱۳۹۷ هـ ش)

**این نشریه مجموعهٔ تحلیل رویدادهای مهم سیاسی، امنیتی، اقتصادی و اجتماعی هفته‌واری است که به زبان‌های پشتو، دری، انگلیسی و عربی، توسط مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی تهیه و نشر می‌گردد، تا نهادهای سیاست‌گذار و پالیسی‌ساز از آن استفاده نمایند.**

## آنچه در این شماره می‌خوانید:

مقدمه ........ ۲

### د سپتمبر یوولسمه او د افغانستان بې‌پایه غمیزه

پر افغانستان د امریکا برید........ ۴

له بریده ۱۷ کاله وروسته وضعیت ........ ۴

پایله........ ٦

### آمار بلند تلفات ملکی در چهار سال حکومت وحدت ملی

حکومت وحدت ملی و تلفات ملکی ........ ۸

عاملین تلفات ملکی ........ ۹

نیاز به ختم جنگ و تأمین صلح ........ ۱۰

## مقدمه

له نن څخه پوره ۱۷ کاله وړاندې د سپټمبر په ۱۱مه، د امریکا په نیویارک او واشنګټن ښارونو خونړي بریدونه وشول او امریکا په دغو بریدونو کې، د القاعدې ډلې د مشر اسامه بن لادن د ښکېلتیا په پلمه، پر افغانستان یرغل وکړ او د روانې جګړې پیلامه یې په خپل نوم کړه.

دغه جګړه د ۱۷ کلونو په تېرېدو لا هم توده روانه ده، د داعش ډلې په ګډون ځینې نورې وسلهوالې ډلې هم په افغانستان کې فعالې شوې دي. دغه راز د ۱۷ کلونو په تېرېدو اوس داسې ښکاري، چې افغانستان ورو ورو د سیمهییزو او نړیوالو قدرتونو د سیالۍ په ډګر هم بدل شوی دی او له دې ټولو سره سره، په دې جګړه کې پر ښکېلو لورو سربېره لسګونه زره ملکي وګړو ته هم مرګ‌ژوبله اوښتې ده.

دا چې په امریکا کې د سپټمبر د ۱۱مې بریدونه څه ډول وشول، پر افغانستان د امریکا د یرغل تر شا دغه هېواد څه موخې لرلې او د ۱۷ کلونو په تېرېدو سره ولې په افغانستان کې لا هم جګړه تر پخوا ګرمه روانه ده؟ هغه پوښتنې دي، چې د ستراتېژیکو او سیمهییزو څېړنو مرکز د اوونۍ تحلیل په لومړۍ برخه کې مو بحث پرې کړی دی.

د تحلیل دویمه برخه مو هم په افغانستان کې د امریکا له لوري په پیل شوې روانه جګړه کې د ښکېلو لورو د نه پاملرنې له امله د ملکي وګړو مرګ‌ژوبلې ته ځانګړې کړې ده. د ملګرو ملتونو سازمان د وروستي راپور له مخې، د ملي یووالي حکومت په تېرو څلورو کلونو کې له ۴۰ زره زیاتو عامو افغانانو ته په دې جګړه کې مرګ‌ژوبله اوښتې ده. په افغانستان کې د ملي یووالي حکومت له راتګ سره جګړې د پخوا په پرتله ورځ تر بلې زور واخیست او لمن یې تر ښارونو  پورې هم پراخه شوه. په روانه جګړه کې له یوې خوا د دولت د وسلهوالو مخالفینو په بریدونو او چاودنو کې او له بلې خوا په افغانستان کې د مېشتو بهرنیو ځواکونو او افغان امنیتي ځواکونو په عملیاتو او هوایي بمباریو کې ډېری مهال ملکي وګړو ته درانه تلفات اوړي.

# د سپټمبر یوولسمه او د افغانستان بې‌پایه غمیزه



د ۲۰۰۱م کال د سپټمبر په ۱۱مه د القاعدې ډلې ۱۹ غړو، چې ډېری یې د سعودي عربستان وګړي وو، د "یونایټډ" او "امریکن" هوایي شرکتونو څلور الوتکې هایجک (برمته) کړلې او د امریکا پر نیویارک او واشنګټن ښارونو یې بریدونه وکړل. په دغه بریدونو کې شاوخوا ۳۰۰۰ کسان ووژل شول او همدا بریدونه په افغانستان کې د روانې جګړې د پیل یوه مهمه پلمه وګرځېده، چې له امله یې امریکا پر افغانستان برید وکړ او لسګونه زره سرتېري یې له ترهګرۍ سره د مبارزې تر نوم لاندې افغانستان ته ولېږل.

په افغانستان کې د امریکا له لوري د پیل شوې جګړې ۱۷ کاله تېرېږي؛ خو دا جګړه لاهم روانه ده او هره ورځ د لسګونه افغانانو ژوند اخلي. د ۱۷ کلونو په تېرېدو سره نه یوازې دا چې طالبان مات نه شول، بلکې په افغانستان کې د داعش ډلې په ګډون یو شمېر نورې وسله‌والې ډلې هم فعالې شوې.

د سپټمبر ۱۱مې له پېښې را وروسته پر افغانستان د امریکا د برید څرنګوالی، په افغانستان کې د امریکا جګړه او دا چې په ټوله کې د سپټمبر ۱۱مې له پېښې را وروسته په افغانستان کې امریکا څه ترلاسه کړل؟ هغه موضوعات دي، چې دلته مو بحث پرې کړی دی.

## پر افغانستان د امریکا برید

د شوروي اتحاد د یرغل پر مهال یو شمېر عرب وګړي په افغانستان کې مېشت وو او له افغان مجاهدینو سره یې په بېلابېلو برخو کې مرستې کولې. د طالبانو د اسلامي امارت د جوړېدو پر مهال هم، ځینې عربان، د اسامه بن لادن او د ده د ملګرو په شمول، په افغانستان کې مېشت وو، چې له طالبانو وړاندې د استاد رباني حکومت پناه ورکړې وه.

اسامه بن لادن هغه څوک و، چې پر سر یې د طالبانو او امریکا ترمنځ شخړې پیدا شوې او په ۱۹۹۸م کال کې څو ځله د امریکایانو لهخوا پر افغانستان توغندیز بریدونه هم وشول؛ خو څه کم درې کاله وروسته کله چې په امریکا کې د سپټمبر ۱۱مې پېښه رامنځته شوه، یو ځل بیا د اسامه پر سر جنجال زور واخېست.

د امریکا د هغه مهال ولسمشر"جورج ډبلیو بش" له طالبانو څخه د ۲۰۰۱م کال د سپټمبر په ۲۰مه وغوښتل چې دوی ته د القاعدې ټول غړي وسپاري، ټول بهرني بندیان خوشې کړي، د وسلهوالو جنګیالیو روزنیز مرکزونه وتړي او امریکا ته د "ترهګرو" د ټرېنېنګ مرکزونو ته لاره ورکړي، څو دوی هلته خپلې څېړنې وکړي؛ خو طالبانو د امریکا دغه وړاندیزونه رد کړل او په ځواب کې یې وویل چې امریکا په دې پېښه کې د اسامه د ښکېلتیا هېڅ ډول ثبوت نه لري.

که څه هم وروسته طالبانو امریکا ته وړاندیز وکړ چې دوی چمتو دي، څو اسامه پاکستان ته وسپاري او هلته محکمه شي؛ خو دغه وړاندیز د پرویز مشرف له لوري رد شو. دغه راز د ۲۰۰۱ کال د اکتوبر پر ۷مه طالبانو یو ځل بیا وړاندیز وکړ، چې دوی چمتو دي په افغانستان کې دننه په یوه محکمه کې پر اسامه پرېکړه وکړي. خو په همدې ورځ امریکایانو پر افغانستان هوایي بریدونه پیل کړل او روانه خونړۍ جګړه یې پیل کړه.

## له بریده ۱۷ کاله وروسته وضعیت

ظاهراً پر افغانستان د امریکا برید له "ترهګرۍ" سره د مبارزې تر نامه لاندې وشو؛ خو د ۱۷ کلونو په تېرېدو نه یوازې دا چې "ترهګري" ختمه نه شوه، بلکې په افغانستان کې نورې بېلابېلې وسلهوالې ډلې هم را پیدا شوې. جګړې ورځ تر بلې زور واخیست او پر ښکېلو لورو سربېره لسګونه زره عامو افغانانو ته هم پهکې مرګژوبله واوښته.

په ټوله کې د ۱۷ کلونو په تېرېدو سره په افغانستان کې د امریکا د رواني جګړې پایلې په لاندې څو ټکو کې بیانولی شو:

**لومړی**؛ پر افغانستان د امریکا له برید وروسته د ۱۷ کلونو په تېرېدو لا هم جګړه روانه ده، پر طالبانو سربېره د داعش په ګډون، نورې مختلفې وسله‌والې ډلې هم راپیدا شوې دي. د سیګار د وروستي راپور پر بنسټ، د هېواد له ۴۰ سلنه څخه زیاته خاوره د حکومت د وسله‌والو مخالفینو تر کنټرول لاندې ده. دغه راز د ملګرو ملتونو سازمان په وینا، یوازې په تېرو څلورو کلونو کې په افغانستان کې ۴۰ زره ملکي وګړو ته مرګ‌ژوبله اوښتې ده. په دې موده کې امریکا په افغانستان کې ګڼ داسې جنایتونه وکړل چې اوس یې له څېړلو وېره لري او له همدې کبله یې د هاګ نړیوالې محکمې ته د امریکایي سرتېرو د دوسیو د څېړلو له کبله‌ګواښ کړی دی.

**دویم**؛ د طالبانو د رژیم له سقوط وروسته، افغانستان کې د امریکا په رهبرۍ د نړیوالو ځواکونو له لوري د نوي نظام بنسټ کېښودل شو؛ خو د ۱۷ کلونو په تېرېدو لا هم د افغانانو پر وړاندې سیاسي بې‌ثباتي او د حکومتي چارواکو ترمنځ ژور اختلافونه ستري ننګونې ګڼل کېږي. د درې ځله ولسمشریزو ټاکنو په ترسره کېدو سربېره لا هم افغانستان کې د فساد له امله د ټاکنو پر کمیسیونونو باور نه شي کېدای او افغانستان د نړۍ د فاسدو هېوادونو په نوملړ کې څلورم مقام لري.

**درېیم**؛ افغانستان ته د نړیوالو ځواکونو له راتګ سره، میلیاردونه ډالر هم دغه هېواد ته راغلل؛ خو د مشخصو کړیو او کسانو جیبونه ترې ډک شول. اوس شاوخوا ۴۰ سلنه افغانان د فقر تر کرښې لاندې ژوند کوي، دغه راز نږدې دوه میلیونه افغانان چې د کار کولو په شرایطو برابر دي، بې‌کاره دي او په تېرو څو کلونو کې سلګونه زره لوستي او نالوستي افغان ځوانان د بې‌کارۍ له کبله بهرنیو هېوادونو ته ګډوال شول، چې ډېر یې له رسېدو وړاندې د سختو او مرګونو لارو له کبله د مرګ کندو ته ولوېدل.

**څلورم**؛ په افغانستان کې د امریکا د ۱۷ کلنې جګړې له امله د سیمې د ځینې هېوادونو لکه: ایران، پاکستان، روسیې او چین لاسونه هم په یو ډول نه یو ډول د افغانستان قضیې ته را دننه شول او اوس‌مهال ډېری شنونکي په دې باور دي، چې افغانستان کې روانه جګړه د سیمې او نړۍ د سترو قدرتونو د تقابل او پټو لاسوهنو له امله اوږده شوې او که همداسې روانه وي، ښایي افغانستان د همدغو سترو قدرتونو د سیالیو پر علني ډګر بدل شي.

**پایله**

د سپټمبر یوولسمې بریدونو د امریکا له پولو هاخوا، پر نړۍ او ځانګړې ډول پر افغانستان، داسې ناوړه اغیزې لرلې دي، چې لمن یې تر نن ورځې هم نه ده ټوله شوې. د دغو بریدونو له امله د نړۍ په یو شمېر هېوادونو کې د امریکا او ځینو نورو پوځي قدرتونو لاسوهنو ته نښه پلمه برابره شوه، چې له امله یې په افغانستان، عراق، سوریه، لیبیا... کې سلګونه زره انسانان د جګړې په اور کې لولپه شول.

په افغانستان کې د امریکا له جګړې د ۱۷ کلونو په تېرېدو اوس‌مهال ډېری شنونکي په دې باور دي، چې امریکا افغانستان ته له ترهګرۍ سره د مبارزې په موخه نه، بلکې په دغه سیمه کې د خپلو ستراتیژیکو او اوږدمهالو سیمه‌ییزو ګټو ترلاسه کولو لپاره راغلې ده او د سپټمبر ۱۱ مې پېښه هم تر ډېره له همدې موخو سره تړاو لري.

په بل اړخ کې له همدې کبله له تېرو څو کلونو راهیسې په افغانستان کې د امریکا نظامي حضور د سیمې د یو شمېر هېوادونو لکه: ایران، چین او روسیې اندېښنې هم را پورته کړې دي. روسیه او ایران له څو کلونو راهیسې په دې باور دي، چې امریکا په لوی لاس سیمه ناامنه کوي او له ترهګرۍ سره د مبارزې په نوم، د ځینو وسله‌والو ډلو ملاتړ کوي؛ خو امریکا بیا تل دغه تورونه رد کړي او برعکس نوموړي هېوادونه له وسله‌والو ډلو په ملاتړ تورونوي.

په ټوله کې د سپټمبر ۱۱مې له پېښې وروسته، پر افغانستان د امریکا برید د دغه هېواد د تر ټولو اوږدې بهرنۍ جګړې پیلامه شو. د ۱۷ کلونو په تېرېدو اوس مهال خپله امریکایي جنرالان هم په دې باور دي چې په افغانستان کې د امریکا روانه جګړه له بن‌بست سره مخ ده او اړتیا ده چې د خبرو اترو له لارې یې نوره پای ته ورسوي. له همدې کبله د افغانستان په جګړه کې د امریکا د ناسمو پالیسیو له کبله دغه هېواد په کور دننه او بهر له نیوکو سره مخ دی. پای

# آمار بلند تلفات ملکی در چهار سال حکومت وحدت ملی




هفتهٔ گذشته مارک لاوکک، معاون سرمنشی سازمان ملل متحد برای امور بشردوستانه در سفر دو روزهٔ خویش به افغانستان گفت که در چهار سال حکومت وحدت ملی، ۴۰ هزار غیرنظامی در جنگ افغانستان کشته و زخمی شده‌اند.

با آنکه جنگ جاری امریکا در افغانستان از هفده سال به اینسو در افغانستان جریان دارد، اما این جنگ پس از سال ۲۰۱۴م و روی‌کار آمدن حکومت وحدت ملی، بیش از پیش شعله‌ور گردیده و بر علاوهٔ طرف‌های درگیر، ده‌ها هزار تن از افراد ملکی نیز در این جنگ کشته و زخمی شده‌اند؛ ولی تا اکنون نه امریکا و نه هم گروه‌های مخالف مسلح دولت موفق به محو جانب مقابل خویش از میدان جنگ شده‌اند.

اینکه چرا با روی‌کار آمدن حکومت وحدت ملی تلفات ملکی افزایش یافت، عاملین تلفات ملکی در جنگ افغانستان کی‌ها اند و بالآخره چگونه می‌توان از خونریزی مردم بی‌گناه در افغانستان جلوگیری کرد؟ موضوعاتی اند که در این تحلیل روی آن بحث می‌کنیم.

## حکومت وحدت ملی و تلفات ملکی

چهار سال قبل از امروز در پی انتخابات نفس‌گیر و جنجالی، در سپتمبر ۲۰۱۴ حکومت وحدت ملی روی کار آمد؛ اما از همان اوایل آغاز کار خود با چالش‌های امنیتی فراوانی روبرو بود، با آنکه سران حکومت وحدت ملی در نخستین ساعت‌های آغاز کار خویش پیمان امنیتی با امریکا را نیز امضاء نمود، ولی جنگ افغانستان سال به سال خونین‌تر و شدیدتر شد.

در زمان حکومت وحدت ملی، دامنۀ جنگ تقریبا به تمام مناطق کشور گسترش یافت و وضعیت امنیتی کشور از یک سال به سال دیگر رو به وخامت گرایید. پس از سال ۲۰۰۱م برای نخستین بار در زمان حکومت وحدت ملی سقوط ولایت کندز به دست طالبان و هجوم گروهی طالبان بر مراکز ولایت‌های فراه و غزنی، زیر کنترول در آوردن اکثریت اداره‌های دولتی در مراکز این دو ولایت و افزایش حملات انفجاری در پایتخت و سایر شهرهای کشور، همه از مواردی اند که تصویر وضعیت ناگوار امنیتی افغانستان را ارائه می‌کند. در این میان با شدت جنگ، افزایش حملات گروهی و انفجاری مخالفین مسلح و بمباردهای هوایی نیروهای خارجی و نظامیان افغان، آمار تلفات غیرنظامیان نیز بیشتر شده است.

با توجه به آمار نهادهای بین‌المللی، پس از سال ۲۰۱۴م و روی‌کار آمدن حکومت وحدت ملی در افغانستان، همه‌ساله سال بیش از ۱۰ هزار فرد غیرنظامی در این جنگ کشته و زخمی شده‌اند.

بر بنیاد گزارش، یوناما مجموع تلفات ملکی در سال ۲۰۱۴م به ۱۰۵۳۴، در سال ۲۰۱۵م به ۱۱۰۰۲، در سال ٢٠١٦م به ۱۱۵۰۰ و در سال ۲۰۱۷ م به ۱۰۴۵۳ فرد ملکی می‌رسد. با در نظرداشت این آمار، دیده می‌شود که بدون سال ۲۰۱۷م که در آن کاهشی اندکی به چشم می‌خورد، در سال‌های دیگر تلفات غیرنظامیان افغان رو به افزایش بوده است.

بر بنیاد گزارش اخیر یوناما، در شش ماه نخست سال ۲۰۱۸م نیز ۵۱۲۲ فرد ملكي در افغانستان کشته و زخمی شده‌اند. در این میان ١٦٩٢ تن که شامل ۵۴۴ زن، ٢٦٣ کودک و ۷۸۵ مرد می‌باشد، در اثر جنگ و درگیری‌های مسلحانه کشته شده‌اند و نیز ۳۴۳۰ تن دیگر که شامل ۹۹۲ کودک، ۳۸۷ زن و ۲۰۵۱ مرد می‌باشد، زخمی شده‌اند. با آنکه بر بنیاد گزارش مذکور، آمار تلفات ملکی در شش ماه نخست سال ۲۰۱۸م نسبت به سال گذشته یک درصد افزایش یافته است؛ اما آمار مجروحین ۵ در صد کاهش یافته است.

## عاملین تلفات ملکی

جنگ جاری در افغانستان از سوی نیروهای خارجی، دولت افغانستان و مخالفین مسلح (هر گروهی که علیه دولت افغانستان و نیروهای خارجی در این کشور می‌جنگد) به پیش برده می‌شود. بر همین اساس در تلفات غیرنظامیان نیز تمام جوانب دخیل در جنگ افغانستان سهم و نقش خود را دارند. در کل، راهکارهای جنگی طرفین در این جنگ باعث افزایش تلفات ملکی شده اما این وضعیت پس از ۲۰۱۴م بیشتر از پیش وخیم‌تر گردیده است.

**مخالفین مسلح دولت:** یکی از عاملین تلفات ملکی در افغانستان گروه‌های مخالف مسلح دولت بخصوص طالبان پنداشته می‌شود. اکثرا افراد غیر نظامی در انفجارها و حملات گروهی و انفجاری گروه‌های مخالف مسلح دولت کشته و زخمی می‌شوند. در طول چهار سال حکومت وحدت ملی، از جمله حملاتی بزرگی مخالفین مسلح دولت افغانستان که در آن ده‌ها فرد ملکی کشته و زخمی شدند، می‌توان حمله بر اعتراض کننده‌گان جنبش روشنایی، حملۀ چهارراهی زنبق، حمله برمرکز آموزشی موعود، حمله بر ورزش کاران در کلب پاهلوانی، حمله بر اعتراض کننده‌گان در ولسوالی مهمندرۀ ولایت ننگرهار و ده‌ها حملۀ مرگبار دیکر را یاد کرد که در طول چهار سال حکومت وحدت ملی صورت گرفته و صدها فرد ملکی در آن کشته و زخمی شده‌اند.

با این حال در گزارش‌های سالانۀ یوناما همواره بگونۀ مشخص عوامل تلفات ملکی ذکر می‌شوند که بخش بزرگی آن به گروه‌های مخالف مسلح دولت بخصوص طالبان منسوب می‌شود. در گزارش سالانۀ یوناما نیز در رابطه به تلفات ملکی در سال ۲۰۱۸م گفته شده که ٦۵ درصد از مجموع تلفات ملکی توسط مخالفین مسلح دولت افغانستان صورت گرفته که ۴۲ درصد آن به طالبان و باقی به داعش و دیگر گروهای مخالف مسلح دولت منسوب شده است. چیزی که طالبان آن را رد می‌کنند.

**دولت افغانستان:** عامل مهم دیگر تلفات ملکی در افغانستان، نیروهای نظامی دولت افغانستان خوانده می‌شود. نیروهای نظامی افغانستان به دلیل کم توجهی به اصول جنگ و عدم مدیریت درست جنگ، اکثریت اوقات در جنگ‌های زمینی و حملات هوایی خود به مردم ملکی تلفات وارد می‌کنند. در گزارش سالانه یوناما در رابطه به سال ۲۰۱۷م گفته شده که نیروهای نظامی افغانستان مسؤول ١٦ درصد از تلفات ملکی در این سال بودند.

**عملیات نیروهای خارجی:** در چهار سال حکومت وحدت ملی، بخصوص پس از اعلام استراتیژي جدید نظامی امریکا برای افغانستان، حملات هوایی نیروهای خارجی چند برابر افزایش یافته است و در موارد متعدد افراد ملکی را مورد هدف قرار داده‌اند. بر بنیاد گزارش‌ها، در سال ۲۰۱۷م نیروهای امریکایی در افغانستان ٢٦١١ حمله هوایی انجام داده‌اند، در حالیکه این رقم در سال ٢٠١٦ م ١٠٧١ و در سال ۲۰۱۵م تنها ٢٣٦ حمله بود. به همین دلیل، نیروهای خارجی از عاملین مهم تلفات ملکی در افغانستان محسوب می‌شوند و در حالیکه شمار زیاد از افراد ملکی در حملات هوایی نیروهای خارجی در افغانستان کشته می‌شوند؛ اما از یک‌سو یوناما در گزارش سال ۲۰۱۷م خود تنها ۲ فیصد از تلفات افراد ملکی را به نیروهای خارجی در افغانستان منسوب کرده و از سوی دیگر رهبران حکومت وحدت ملی نیز بر تلفات ملکی در بمباردهای نیروهای خارجی سکوت اختیار کرده‌اند.

## نیاز به ختم جنگ و تأمین صلح

در کل ادامۀ جنگ تحت هر عنوانی که باشد به ضرر مردم این کشور است و بر بنیاد هر راهکاری که به پیشبرده شود، باعث بربادی و فلاکت مردم  می‌شود. بر همین اساس نیاز است تا با در نظرداشت تجربۀ ۱۷ سالۀ جنگ در کشور، طرفین دخیل در جنگ افغانستان، برای ختم این جنگ تلاش کنند و راهکارهایی را روی دست گیرند که باعث تحکیم صلح در کشور شود.

در طول ۱۷ سال گذشته از سوی امریکا چندین بار در استراتیژی‌های جنگی و رهبری نیروهای خارجی در جنگ افغانستان تغییراتی وارد گردیده و بمباردهای هوایی چند برابر بیشتر شد؛ اما تا اکنون نتیجۀ ملموسی را در ِپی نداشته است. راهکار جدید نظامی دونالد ترامپ که اصلاً تکرار تجربه‌های ناکام حکومت‌های گذشته امریکا بود، نیز با گذشت یک سال دیده می‌شود که ناکام است و خود جنرال‌های امریکایی می‌گویند که امریکا در جنگ افغانستان با بن بست روبرو است.

پایان دادن به جنگ جاری در افغانستان و تلاش‌های واقعبینانه برای مصالحۀ ملی، رابطۀ مستقیم به آیندۀ وضعیت امنیتی کشور و زندگی مردم دارد. اگر امریکا و جامعۀ جهانی می‌خواهند تا جنگ در افغانستان پایان یابد، لازم است گفتگوهای آغاز شدۀ خویش را در هماهنگی با حکومت افغانستان با طالبان ادامه دهند، از سوی دیگر طالبان نیز با درک این که از راه جنگ به هدف خود رسیده نمی‌توانند، همانگونه که در جنگ تند و جدی هستند در گفتگوهای‌های صلح و خاموش ساختن آتش افروخته شده در این کشور، نیز تلاش ورزند.

امریکا که این جنگ را آغاز کرده، در پایان دادن مسؤولانۀ آن نیز نقش اساسی را بازی کرده می‌تواند. همکاری و یا عدم همکاری همسایه‌ها و سایر کشورهای منطقه در قضیۀ افغانستان، رابطۀ مستقیم با وضعیت امنیتی و حضور امریکا در افغانستان دارد. پس از ایجاد پایگاه‌های دایمی نظامی امریکا در افغانستان و ظهور گروه "دولت اسلامی" در این کشور، برخی کشورهای منطقه به خصوص روسیه، مکرراً سیاست‌های امریکا را در امر مبارزه با "تروریزم" مورد انتقاد قرار می‌دهند. بالعکس ناتو و امریکا، روسیه را به حمایت از طالبان متهم می‌کنند و مقام‌های افغان و امریکایی نگران روابط روسیه و طالبان اند.

این رویارویی‌های کشورهای منطقه و جهان، علاوه بر افغانستان وضعیت امنیتی منطقه را نیز با چالش‌های زیادی مواجه می‌کند و افغانستان را به میدان جنگ‌های نیابتی طولانی مبدل خواهد کرد. اما نیاز است که امریکا برای بدست آوردن همکاری کشورهای منطقه، حضور نظامی خویش را در افغانستان مطابق یک تقسیم اوقات خروجی تعیین کند و تردیدهای که در پیش برخی کشورهای منطقه در برابر حضور امریکا در افغانستان وجود دارند، از بین بروند.

پایان

**ارتباط با ما:**

**ایمیل:** info@csrskabul.com - csrskabul@gmail.com

**وب سایت:** www.csrskabul.com -- www.csrskabul.net

**شمارۀ تماس دفتر:** (+93) 202564049 - (+93) 784089590

**محقق و مسؤول تحلیل هفته:** ضیاءالاسلام شیرانی (+93) 764747548 zi.shirani@gmail.com

**محقق و مسؤول نشر تحلیل هفته:** احمدشاه راشد (+93) 784249421 ahmadshahr786@gmail.com